د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي
دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو لیکلې ګلدسته

# دامیرِاهلِسُنَّت نه

# دخوشبو

# په باره کښې سوال جواب

پښتو



- د خوږ آقا د خوښې خوشبویانې
- د ماښام نه پس عطر لګول څنګه دي؟
- عطر لګوئ خو تکلیف مه ورکوئ
- تاسو ته عطار ولې وئیلے شي؟

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

(دا رساله د امیرِ اھلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه نه په شوو سوالونو او د هغې په جوابونو باندې مشتمله ده. )

## د امیرِ اھلِسُنَّت نه د خوشبوئي په باره کښې سوال او جواب

**دُعائے جانشینِ عطّار:** یا **الله** پاکه ! څوک چې دا رساله "د امیرِ اھلِسُنَّت نه د خوشبوئي په باره کښې سوال او جواب" اولولي یا ئې واوري د هغه د ظاهر سره سره د هغه باطن هم خوشبوداره کړې او هغه بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود نه لوستونکي د پاره هلاکت

اُمُّ الْمُؤْمِنِین حضرت عائشه صدیقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د پیشمنې په وخت څه ګنډل چې ناڅاپه ترینه ستَن پریوتله او ډیوه هم مړه شوه. په دې کښې نبي پاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو. د روښانه مخ مبارک په رڼا ئې ټول کور په رڼا شو تر دې چې ستَن میلاو شوه. اُمُّ الْمُؤْمِنِین رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا عرض اوکړو: "یا رسولُ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو نوراني مخ څومره روښانه دے." هغوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "د هغه کس د پاره هلاکت دے څوک چې به ما د قیامت په ورځ اونه لیدلے شي." عرض ئې اوکړو: "هغه کوم کَس دے کوم چې به تاسو اونه لیدے شي." اوئې فرمائیل: "هغه کنجوس [شُوم] دے." اُمُّ الْمُؤْمِنِین پوښتنه اوکړه: "کنجوس څوک؟" ارشاد ئې اوفرمائیلو: اَلَّذِیْ لَا یُصَلِّیْ عَلَیَّ اِذَا سَمِعَ بِاِسْمِی، چا چې زما نوم واوریدو او په ما باندې ئې درود اونه لوستلو."

(القول البدیع، ص: 302)

سُوزَنِ گمشُدہ ملتی ہے تبسم سے ترے
شام کو صبح بناتا ہے اُجالا تیرا

(ذوقِ نعت، ص:16)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سوال: د نبي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کومه خوشبوئي خوښه وه؟

جواب: د مشکو ذِکر ميلاويږي چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دا استعمال فرمائيله. (وسائل الوصول الیٰ شمائل الرسول، ص:87) که (نن سبا) څوک دا خوشبوئي استعمالول هم غواړي نو کيدے شي چې اصلي خيز په مشکله سره ميلاو شي ځکه چې اوس د کيميکل ملاوټ ډير زيات شوے دے، اصلي خيز ميلاويدل ګران کار دے. (د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) نبي کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کومې خوشبوياني استعمالولې په هغې کښې د عُود، مشکو او زعفرانو ذِکر موجود دے. (مسلم، ص:953، حديث:5884، وسائل الوصول، ص:87. ابو داوٗد، 117/4، حديث:4210) هم دا رنګه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سيرت کښې دا هم ميلاويږي چې د هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مشک او عُود خوښ وو. (السيرة الحلبيه، 480/3)(ملفوظاتِ امير اهلسنت، 237/5)

سوال: آيا الکحل والا خوشبوئي استعمالولے شو؟

جواب: د الکحل والا خوشبوئي استعمالولو په باره کښې د عُلَماء اختلاف دے. بعضې عالمان ترينه منع فرمائي چې "دا ناپاکه دي او لګول نه دي پکار." زمونږه د "دارُ الاِفتاء اهلسنت" موقِف دا دے چې "د الکحل والا خوشبوئي پاکه ده، د دې په لګولو کښې هيڅ باک نشته او د دې د لګولو سره په لمونځ کولو کښې هم څه باک نشته." [ځکه چې دا هغه د شرابو والا ناپاکه الکحل نه دي] (فتاویٰ اہلِ سُنت غير مطبوعه، فتویٰ:46831)

البته په کوم ځيز کښې چې د عُلَماء اختلاف وي د هغې نه بچ کيدل بهتر دي. (فتاویٰ رضويه، 251/3) که چرې څوک د الکحل والا خوشبوئي نه ځان ساتي نو ښه خبره ده، هغه ته بدې ردې وئيل نه دي پکار، دا تقویٰ ده. (ملفوظاتِ امیرِ اہل سنت، 290/4)

سوال: آيا جينکۍ خوشبوئي لګولے شي؟

کومه جينۍ چې بالغه ده د هغې د پاره بهتره دا ده چې هغه د کور په چار ديوارۍ کښې "داسې خوشبوئي لګوي چې رنګ خو ئې ظاهر وي خو چې د هغې خوشبوئي نه خوريږي."[1] او که چرې خوشبوئي ئې خوريږي خو نامحرمو ته نه رسي نو هم پکښې څه باک نشته. بهر حال که چرې بالغه په کور کښې هم خوشبوئي لګوي نو هغې ته د دې خبرې خيال ساتل پکار دي چې خوشبو نامحرمه ته نه رسي. (د امير اهلِ سُنت دامت برکاتهم العاليه سره په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) دغه شان دې هغه ماشومانې هم په خوشبوئي لګولو کښې د احتياط نه کار اخلې کومې چې بالغيدو ته نزدې وي. (امير اهلِسُنَّت دامت برکاتهم العاليه ارشاد اوفرمائيلو:) داسې جينکۍ کومې چې بالغيدو ته نزدې نه وي خو په قد کښې لوړې وي او که چرې دا خوشبوئي اولګوي او اُوځي نو نارينه د دوئي طرف ته مائله کيږي نو د هغو هم د خوشبوئي لګولو سره د بهر وتلو نه بچ کيدل ښه دي. (ملفوظاتِ امیرِ اهلسُنت، 16/2)

سوال: د ماښام نه پس عطر لګول څنګه دي؟ آيا د ځلورو نه تر پينځه کالو عمر ماشومانو له عطر لګولے شي؟

جواب: د ماښام نه پس عطر لګولے شي. په شپه او ورځ کښې داسې هيڅ وخت نشته په

[1] --- په حديثِ پاک کښې دي: د نارينوو خوشبوئي هغه ده په کومه کښې چې بوئي وي او رنګ نه وي او د زنانووخوشبوئي هغه ده په کومه کښې چې رنګ وي، بوئي نه وي. (ابوداود، 68/4، حديث: 4048)

کوم کښې چې عطر لګول منع وي. د ځلور پينځه کالو عمر ماشومانو ته دې پورې چې د يوې ورځې ماشوم له هم عطر لګولے شئ. دا غلطه، غلطه او غلطه افواه ده چې د ماښام نه پس د خوشبوئي لګولو سره يا ماشوم له د خوشبوئي لګولو سره ئې پيريان رانيسي يا پيريان ورپورې نښلي، داسې هيڅ نشته. که چرې داسې وے نو پيريانو به د خوشبوئي ټول دکانونه لوټ کړي وے. معلومه نه ده چې د هغوئي خوشبوئي خوښه هم ده او که نه؟ د فرښتو خو خوشبوئي خوښه ده. (حٰاشية السندي بشرح سنن النسائي للسيوطي، 61/7، تحت الحديث: 3939)

(د امیر اهلِسُنت دامت برکاتہم العالیه سره په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) د خليفهٔ مفتئ اعظم هِند (مولانا احمد مُقَدَّم رضوي نوري صاحب) بيان دے چې حضور مفتئ اعظم هِند رحمۃ اللہ علیه به فرمائيل: د بدو او بدبُوداره څيزونو په وجه [په انسان پورې] پيريان نښلي، د خوشبوئي وغيره په وجه ورپورې نه نښلي. د ماښام نه پس د څه وخته پورې ماشومان او زنانه د بهر وتلو نه د منع کولو[1] يوه وجه دا هم ده چې هغوئي ته خو يا هُغه دعاګانې يادې نه وي کومې چې هغوئي د داسې مخلوق نه بچ کړي، بَل په هغوئي کښې د پاکئ دومره اهتمام نه وي نو په دې وجه ورپورې د پيريانو وغيره نښتلو انديښنه وي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سُنت، 289/4)

سوال: بعضې اسلامي ورونړه عين د لـمونځ نه مخکښې خلقو له عطر لګول شروع کړي،

[1] --- د خوږ مصطفٰے صلّی اللہ علیه واٰله وسلّم فرمان دے: کله چې د شپې ورومبئ حصه شي يا تاسو ماښام بيامومئ [يعني په تاسو ماښام راشي] نو خپل ماشومان منع کړئ، ځکه چې دغه وخت شيطانان خوريږي- بيا چې کله د شپې يو ساعت تير شي نو ماشومان پريږدئ او دروازې بندې کړئ او د الله نوم واخلئ، ځکه چې شيطان بنده دروازه نه برسيره کوي- (بخاري، 399/2، حديث: 3280) حکيمُ الأُمت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیه فرمائي: د شيطان نه مراد ضرر رسوونکي پيريان او ضرر رسوونکي انسانان دواړه دي- د ماښام په وخت د ماشومانو اغوا کوونکي زيات ګرځي- نور فرمائي: معلومه شوه چې د پيريانو او شيطانانو اثر په ماشومانو باندې زيات کيږي ځکه ماشومان د [بهر] وتلو نه منع کړے شوي دي-

(مراة المناجيح، 85/6)

هغه عطر کله موافق وي او کله نه وي، بعضې وخت د عطرو په معيار کښې هم فرق وي، په دې باره کښې مدني ګُلونه عطا کړئ.

جواب: دا عمل په مشائخو کښې ليدلے شوے دے، خلق ئې لګوي، په دې کښې زما هُم دا مشوره ده چې که چرې عطر موافق نه وي نو ښځپله ئې منع کړئ. ما د سيدي قطبِ مدينه مولانا ضياءُ الدين احمد قادري مدني رحمۃُاللہِ علیه په خوا کښې ليدلي دي چې خلقو به عطر لګول. د هغوئي رحمۃُاللہِ علیه د وفات نه پس به د جانيشنِ قطبِ مدينه مولانا حافظ فضل الرحمان قادري مدني رحمۃُاللہِ علیه په خوا کښې هم خلقو عطرلګول د دې نه هُم دا معلوميږي چې زياتره خلق [په داسې مجلسونو کښې نورو له] عطر لګوي نو چا ته چې عطر موافق نه وي يا ئې لګول نه غواړي نو خپل لاس دې ترينه اخوا کړي.

(ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 432/2)

سوال: آيا د الله پاک د يو ولي په مزار باندې په ښه نيت سره خوشبوئي لګولے شي؟

جواب: په مزار باندې د خوشبوئي شيندلو حکم خو مې چرته نه دے لوستلے او نه ما ته د دې مسئلې عِلم شته، البته په خلقو کښې دا خبره رائج ده. په مزارونو باندې د عطرو وغيره شيندلو په ځائے د هغه عطرو رقم مثلاً 100 روپۍ د صاحبِ مزار د ايصالِ ثواب په نيت سره که چا غريب له ورکړئ نو ډيره به بهتره وي، د هغه غريب به پرې څه کار هم اوشي او د صاحبِ مزار د پاره به د ثواب سلسله هم اوشي. ښځپله غور اوکړئ د څادر غوړولو يا عطرو شيندلو سره به ډيره فائده کيږي يا د داسې ايصالِ ثواب کولو سره به ډيره فائده کيږي. البته په مزار باندې څادر غوړول او ګلونه کيښودل جائز دي. بهر حال په مزار شريف يا د دې په څادرونو باندې چې کوم عطر شيندلے شي د هغې نه صرف د لږ وخت د پاره خوشبوئي څي بيا ئې پته هم نه لګي چې دلته عطر شيندلے

شوي وو څکه چې د څادر د پاسه د ګلونو ډيرے جوړ وي اګرباتئ پرې بيلې بلې وي د کومو سره چې د عطرو د خوشبوئي پته هُم نه لګي. بيا دا هُم ضروري نه ده چې هر عطر دې دومره ښه وي چې خوشبوئي ئې برقراره پاتې شي بلکه په مزارونو کښې چې کوم عطر خرخيږي د هغې هم څه خاص معيار نه وي. که چرې هغه څه خاص عطر وي نو هُم د مزار په څادر باندې د شيندلو مسئله ما ته معلومه نه ده چې آيا د دې نه تعظيم مقصد وي يا څه معامله وي او دغه شان د عطرو شيندلو سره تعظيم کيدے شي او که نه؟

## په عطرو شيندلو کښې احتياط کوئ

يو ځل د ميلاد شريف د جلوس په موقع باندې چا په ما باندې عطر راوشيندل کوم چې زما په سترګو کښې لاړل، د دې نه پس به په باقي پاتې جلوس کښې په ما څه تير شوي وي په دې هر عقلمند کَس ښه پوهيدے شي. **اللّٰه** ترې خبر دے چې هغه زما د تعظيم د پاره داسې کړي وو که څه بَل څه نيت ئې وو، پته نه لګي چې هغه به څه ثواب د ځان سره ورړے وي. داسې خلق "ورشيندونکي" وي، د دوئي ډله د سرکار ﷺ د روضۀ انور د جالئ مبارکې سره په موجودو زائرينو باندې هم سپرے کوي، ما ښخپله دوئي په داسې کولو باندې ليدلي دي. دوئي دومره خيال هُم نه کوي چې چا هلته سر ښکته کړے سترګې ئې بندې کړې دي او ولاړ دے يا په تصور کښې چرته رسيدلے دے او د دې "ورشيندونکي ډلې" خلق راشي او په هغه باندې سپرے اوکړي، هغه زيارت کوونکے که چرته رسيدلے هم وي نو واپس به راشي او دا خلق به کيدے شي دا ګڼي چې مونږه د روضې مبارکې زيارت کوونکے خوشبوداره کړو يعني څه غټه توره مو اوکړه.

## په عطر لګولو کښې د نورو خيال ساتئ

زما تجربه ده چې بعضې خوشبويانې په بعضې خلقو باندې موافق نه راځي، په زرګاؤ قسمه خوشبويانې وي، بعضې خوشبويانې د بعضې خلقو د پاره د الرجي باعث هم جوړيږي چې هغوئي د خوشبوئي بوئي کولو سره انتروشي [پرنجې] شروع کړي، څنګه چې هغه خوشبوئي د هغه سر ته اورسي د هغه سر هم درد شروع کړي او هغه خوار خپل سر اونيسي او کښيني. خوشبوئي لګوونکے په خپل ذهن کښې هغه خوشبوداره کوي خو هغه خوار په ازميښت کښې ګير شي. په هُم دې وجه دلته عطر د خلقو په لاسونو باندې د لګولو رواج دے خو بيا دې هم د مخامخ کَس نه پوښتنه اوکړے شي [که هغه اجازت ورکړي] نو عطر دې ورله اولګولے شي. کيميکل والا خوشبوئي هم وي کومه چې په لاس باندې اولګولے شي نو د لاسونو نه ويښته اوباسي. د دې نه علاوه دا مې هم ليدلي دي چې خلق د جُمات په دَرئ باندې د عطرو شيشې شيندي چې د هغې په وجه د جُمات په دَرئ باندې داغ جوړ شي او بيا خيرے اونيسي. دغسې که عارضي خوشبوئي راشي نو هم نتيجتاً دَرئ خرابه شي نو دا د جُمات د فائدې په ځائے نقصان شو.

(ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 19/2)

**سوال:** د خوشبوئي د پاره د ګلاب اوبه شيندل څنګه دي؟

**جواب:** د خوشبوئي حاصلولو د پاره بعضې خلق د ګلاب اوبه شيندي، زما د دې سره اختلاف دے ځکه چې د تجربې خبره ده چې په محفلونو کښې د ګلاب اوبه شيندلو والا بعضې وخت د خلقو په مخونو باندې شيندل کوي چې هغې سره خلقو ته راحت نه بلکه تکليف رسي. هغه کار کول پکار دي چې د هغې نه يو مسلمان ته هُم تکليف نه رسي تر دې پورې چې يو زر (1000) ګسان ستاسو د خوشبوئي نه خوند اخلي او يو وائي

چې ما ته پرې تکليف رارسي نو هغه ته به دا نشي وئيلے چې تۀ د دې ځائے نه لاړ شه ځکه چې ټولو ته فائده رسي او صرف تا ته تکليف رسي بلکه که چرې يو کم زر (999) ګسانو ته په فائدې رسولو کښې يو ته تکليف رسي نو بيا به هُم دا يو د تکليف نه د بچ کولو د پاره د ده سره رعايت کول وي او باقي پاتې ټول به د دې لړ شان راحت نه محرومه کول وي. اوګورئ! بنده خو شپه او ورځ په خوشبويانو کښې غوپې نه وهي چې د خوشبوئي نه به بغير پاتې نه شي او هغه ته چې د مفتو دا کومه خوشبوئي راځي هغه دې راځي اګر که بَل مسلمان ته ترينه تکليف رسي. ياد ساتئ! مسلمان ته د تکليف رسولو هم شرعي حکمونه دي او که چرې چا ته واقعي تکليف اورسولے شو نو د هغې حکم تر کبيره ګناه پورې رسي.

## د عطرو لګولو په وخت د ځان په شان د نورو هم خيال ساتئ

کله چې بنده ځان له عطر لګوي نو په لاس باندې لږ شان اولګوي، د خپلو جامو هم خيال ساتي او که چرې سپينې جامې ئې وي نو دا خيال هُم ساتي چې چرې د عطرو لګولو سره خو به په دې باندې داغ نه جوړيږي تر دې پورې چې د داغ نه د بچ کيدو د پاره بے رنګه عطر استعمالوي. نو چې د عطرو استعمالولو په وخت د ځان د پاره دومره احتياطونه کولے شي نو بيا د عوامو خيال ولې نه ساتلے کيږي؟ داسې ما څوک په خپل ځان باندې د عطرو د ټولې شيشې په اچولو نه دي ليدلي نو بيا په نورو باندې ولې اچولے شي؟ (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 22/2)

سوال: د جُمعې او اخترونو په ورځ په جماتونو کښې بعضې خلق خوشبوئي شيندي او په کوم ځائے چې تيريږي خلق هغه له رقم ورکوي، څوک 10 روپۍ ورکوي، څوک 20 روپۍ

نو څوک 50 روپۍ ورکوي د دې شرعي حکم څه دے؟

جواب: دا مې نوې خبره واوریدله چې داسې هم کیږي. بهر حال که دا شیندلو والا رقم واخلي او که نه، داسې په ټولو باندې خوشبوئي اچول صحیح کار نه دے ځکه چې کیدے شي د چا د دې نه الرجي وي او هغه د دې نه تکلیف محسوس کړي، بیا د داسې اچولو سره د عطرو څاڅکے که د چا په سترګه کښې لاړ شي نو هغه به په ازمیښت کښې اخته شي. پاتې شوه خبره د رقم ورکولو نو که چرې څوک د هغه د غوښتلو نه بغیر په خپله خوښه رقم ورکړي نو هیڅ باک نشته او که چرې دا ټاکلے شوې وي چې د خوشبوئي اچولو والا ته به رقم ورکول وي په نه ورکولو باندې به بدې ردې وائي نو بیا دا صحیح نه ده او د سپورو سپکو خبرو نه د بچ کیدو د پاره که چرې چا څه رقم ورکړو نو دا به رشوت وي، په دې کښې به اګرچه ورکوونکے ګنهګارنه وي ځکه چې هغه د شر نه د بچ کیدو د پاره رشوت ورکړے دے خو اخستونکے به ضرور ګنهګار وي. دا د شیندلو رواج ختمیدل پکار دي. یاد ساتئ! د ذِکر و نعت یا جلسو په هره اجتماع کښې داسې خوشبوئي شیندل د خلقو د تکلیف وجه جوړیږي. کیدے شي چې څوک داسې کوي هغوئي دا ثواب ګڼي. بیا په فضا کښې شیندل بیله خبره ده او په یو بنده باندې شیندل بیله خبره، نو کله چې په فضا کښې شیندئ نو په هغه وخت کښې هم دا خیال ساتئ چې په خلقو اونه غورځیږي. بهر حال بهتره دا ده چې د دې نه علاوه نور هم ډیر کارونه دي هغه دې اوکړے شي، په دې وخت ضائع کول نه دي پکار. د کولو والا کار کوئ ګنې د نه کولو په کارونو کښې به اخته شئ.

(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 431/2)

سوال: اکثر ګاهک پوښتنه کوي چې خوشبوئي تر څومره وخته پورې برقراره وي؟ نو دا

وئيل شنکه دي چې "10 يا 12 ګينټې وي."

جواب: بعضې خلق د خوشبو په باره کښې تر دې پورې مبالغه کوي چې "که جامې وينځې نو بيا به هم ترينه خوشبوئي نه لرې کيږي." بهر حال! که يقيني پته وي چې دا خوشبوئي تر دومره وخته پورې پاتې کيږي نو بيا ورته اووائيئ [چې دومره وخته پورې برقراره وي]. زما د دې فيلډ سره کافي تړون پاتې شوے دے. په اصل کښې د خوشبوئي ټاکلے شوے وخت وئيل ډيره ګرانه خبره ده، ځکه چې په ګرمئ کښې د لـمر په وجه خوشبوئي زر الوځي، خو ولې چې په يخنئ کښې لـمر دومره تاو نه کوي، ځکه خوشبوئي کمه الوځي. که چرې خوشبوئي په نغري باندې کيږدئ نو معلومه به شي چې د هغې نوم څه دے؟ ځکه چې خوشبوئي په توديدو زر الوځي. عام طور خوشبوياني الوځي، ځکه چې په دې کښې پائيداري کمه وي. البته بعضې خوشبويانې داسې دي چې په هغو کښې پائيداري زياته وي، په هغو کښې يو "صندل" هم ده. په بعضې خوشبويانو کښې صندل ميلاوهلے شي، د پاره د دې چې د هغې پائيداري زياته شي، لکه په ګلاب کښې پائيداري کمه وي، ډير زر الوځي، ځکه په دې کښې صندل ميلاو کړے شي او بيا تر څه وخته پورې کينبودلے شي، د پاره د دې چې دواړه يو بل جذب کړي، بيا د دې پائيداري زياته شي. بعضې خوشبويانې په زمکه کښې خخولے شي، دغه شان بعضې خوشبويانې ميلاو کړے شي او د هغو محلول او مجموعه جوړه کړے شي او بيا هغه د يو څو ورځو د پاره کينبودلے شي، هله بيا تياره شي او د استعماليدو قابله شي. اوس خو تقريباً خوشبويانې د کيميکلو نه جوړيږي، اصلي خوشبويانې اوس نايابه دي، که چرې څوک وائي هم چې "دا اصلي خوشبوئي ده" نو اعتماد به پرې نه کيږي. **الله** ښه پوهيږي. بعضې خوشبويانو والا ليکي چې "دا د بهترين معيار (Super Quality) ده" حالانکه د

هغه خوشبوئي هيڅ قيمت نه وي او هغه د دوؤ ټَکو خوشبوئي وي. دا خلق بس هسې وائي. هر چا ته د بهترين معيار (Super Quality) پته هم نه وي. پته نه لګي چې دا خلق داسې ولې ليکي! دغه شان دوئي خپل آخرت په داو لګوي او دغه ليکل د قيامت د پاره د ځان خلاف ګواه جوړوي. څوک چې بهترين معيار (Super Quality) ليکي هغوئي دې په خپل بهترين (Super) باندې غور اوکړي چې که چرې هغه بيکاره وي نو بهترين (Super) ليکل به دروغ وي، ځکه چې تاسو د دهوکې ورکولو د پاره بهترين (Super) ليکلي دي. بيا بعضې خلق د خپلو خوشبويانو قِسما قِسم نومونه هم کيږدي، داسې نه دي کول پکار. که هر قِسمه څيز وي، که خاورې وي او که سره زر وي، تاسو [ګاهک ته] اووائيئ [چې داسې ده]. که چرې پوښتنه اوکړي چې "تر څومره وخته پورې به خوشبو برقراره پاتې کيږي؟" نو که چرې تاسو ته يقيني پته وي يا مو پخپله تجربه کړې وي نو اووائيئ چې "اندازتاً تر دومره ګنټو پورې به خوشبوئي باقي وي." بعضې وخت د کمپنئ بدلولو سره هم د خوشبوئي معيار بدل شي. داسې هم کيږي چې تاسو يو ځل څه مجموعه جوړه کړه، د هغه فارمولې نه چې تاسو بيا مجموعه جوړوئ نو څه نا څه فرق به پکښې پريوځي. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 333/4)

سوال: اکثر خلق دا وائي چې د روژې په حالت کښې خوشبوئي نشي لګولے، په دې باره کښې رهنمائي اوکړئ.

جواب: اکثر خلق خو دا خبره نه کوي، بعضې بعضې ئې کوي! بهر حال د روژې په حالت کښې په خوشبوئي لګولو کښې هيڅ باک نشته. (فتاویٰ امجدیہ، 398/1) (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 384/4)

سوال: عطر خرڅوونکي د عطرو چيک کولو د پاره د عطرو د شيشې نه د ډيرو خلقو په لاسونو باندې لګوي نو دغسې په هغې کښې څه عطر کم هم شي نو آيا د داسې لړ

کم وزن والا شیشې ته د پوره وزن والا وئیل او خرخول صحیح دي؟

جواب: داسې قِسمه عُرف [رواج] خو دے چې عطر خرخوونکے عطر په وزن نه خرخوي بلکه هم داسې ئې خرخوي چې دا بوتل په دومره روپو دے خو په وزن وئیلو سره هم عطر خرخوي مثلاً مخکښې به د "تولې" په حساب سره عطر خرخیدل چې نیمه توله ده خو اوس به د ګرام په حساب سره خرخیږي مثلاً دا د پینځه ګرامه بوتل په دومره دے حالانکه د دې نه یو ګرام وتلې وي، دغه شان په بوتلو کښې هم مسئلې وي چې د بعضې بوتلو بیخ [د دننه نه] پیړ وي چې د هغې په وجه په هغې کښې عطر کم راځي ځکه د وزن په ځائے په داسې وئیلو کښې عافیت دے چې دا شیشه په دومره ده. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 427/2)

## تاسو عطّار ځنګه جوړ شوئ؟

سوال: تاسو ته عطار ولې وئیلے شي تاسو د عطرو کار ځنګه شروع کړو؟[1]

جواب: د دې یوه وجه خو دا ده چې ما به مخکښې عطر خرخول او ما دا ګڼل چې کیدے شي عطر خرخوونکي ته عطار وئیلے شي ځکه ما خپل تخلص عطار کېښودو. دا د هُغه دور خبره ده کوم وخت چې د دعوتِ اسلامي وجود هم نه وو، وروستو راته پته اولګیده چې کورنۍ دوایانې خرخوونکي ته عطار وئیلے شي. د دې نه علاوه ما د تذکرة الاولیاء د کتاب د لیکونکي "شیخ فریدُ الدِّین عطار" نوم اولوستو نو زما خوښ شو ځکه د **الله** د یو ولي په نسبت سره یا د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَیهِم د تذکره نګار په نسبت سره ما دا تخلص خپل کړو. اوس ما ته پته لګیدلې ده چې په عرب دنیا کښې

[1] --- د دې پوښتنې دویمه حصه د شعبه ملفوظات امیر اهل سنت له خوا جوړه کړے شوې ده خو جواب د امیر اهل سنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه عطا کړے شوے دے۔

یوه ډیره لویه کورنۍ ده د کومې سَر نیم (Surname) چې عطار دے.

(سلسلہ:دلوں کی راحت،26شعبان المعظم 1441ھ مطابق19اپریل2020.امیر اہل سنت کی کہانی انہی کی زبانی،قسط17)

# د عطرو کاروبار

د عطرو د کاروبار ترکیب داسې جوړ شو چې په کومو ورځو کښې به ما په نور مسجد کښې امامت کولو نو ما د سرکارِ غوثِ اعظم رَحمۃُ اللهِ علیه په بارګاه کښې د دې سلام یوولس شعرونه عرض کړل:

سلطان اولیاء کو ہمارا سلام ہو جیلاں کے پیشوا کو ہمارا سلام ہو

بیا مې په څه طریقه دیرش روپۍ جمع کړې او په فریم کښې لګولو والا زر ښکلې پرچې مې چاپ کړې او مفت مې تقسیم کړې او په هغې باندې مې د نور مسجد پته هم اولیکله چې د دې ځائے نه ئې مفت ترلاسه کړئ. یوه ورځ چرته د لرې نه یو کلین شیو زلــمے په دغه پته باندې زما خوا له راغلو او زما نه ئې هغه پرچه اوغوښتله. زه اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شروع نه ملنسار [یعنې په محبت او اخلاقو سره میلاویدونکے] یم او زما عادت وو چې څوک به هم راتللو نو د هغه سره به په محبت، ملنسارۍ او ښو اخلاقو سره میلاویدم نو ما هغه په خپله حجره کښې کښینولو. زما حجره تقریباً د یو ګټ همره وه کومه چې ما ته د جُمات له خوا میلاو شوې وه، هغه وخت دغه کمره زما ټوله دُنیا وه، په هغې کښې به زما کتابونه موجود وو او هلته به ما خپلې وینځلې جامې وَچولو د پاره په رسۍ باندې اچولې. کله چې د هغه زلمي سره زما خبرې اوشوې نو هغه اووئیل چې زما د عطرو هول سیل دُکان دے. هغه د عطرو یوه غټه شیشه هم ما له په خوشحالۍ کښې راکړه کومه چې هغه د ځان سره راوړې وه. د عطرو د دُکان چې مې واوریدل نو زما په

خُله کښې اوبه راغلې چې دا خو عطرو والا دے او زه خو هسې هم د عطرو لګولو ډېر شوق لرم. کله چې ما هغه ته اووئيل چې زما د عطرو سره شوق دے نو هغه ما له د خپل دکان پته راکړه. هغه زلـمے ميمن وو او د غوثِ پاک سره ئې ډېر عقيدت لرلو. کله چې زه د هغه دُکان ته اورسيدم او د هغه نه مې عطر واخستل نو پته راته اولګيده چې په هول سيل کښې عطر ډېر ارزان ميلاوېږي ځکه چې ما به په روپۍ دوه روپۍ وړه شان شيشه اخستله خو هغه په هُم دومره رقم ډېره غټه شيشه راکړې وه. ما د هغه نه په هول سيل کښې عطر واخستل او خالي شيشې مې ترې ډکې کړې او خرڅې مې کړلې. په هغه ورځو کښې به ما "مجموعه" ډېره په شوق لګوله. بيا مې د موتيا، ګلاب، چانبيل او مختلف قسم عطر خرڅول هم شروع کړل او هغه به مې په يو بيګ کښې اچول او خرڅول به مې. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما اوس هُم د عطرو څه نا څه تجربه شته دے.

(سلسلہ:امیر اہل سنت کی کہانی انہی کی زبانی،قسط:17-مدنی مذاکرہ، نمبر:171)

د امير اهلِسُنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه شوي پوښتنې او د هغې جوابونه دلته ختم شول


## د خوشبوئي سُنت او آداب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! راځئ چې د خوشبوئي د سنتو او آدابو په باره کښې د يو څو مدني ګلونو اوريدو سعادت حاصل کړو. وړومبے يو فرمانِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: څلور خيزونه د نبيانو په سُنت کښې داخل دي: نـکاح، مسواک، حيا او خوشبوئي لګول. (مشكاةالمصابيح، 1/88، حديث:382) ❁ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خوشبوئي تحفه نه رد کوله. (سنتیں اور آداب، ص:85) ❁ د جُمعې د لـمانځه د پاره خوشبوئي لګول مستحب دي. (بہار شریعت 1/774، حصہ 4 ملخصًا) ❁ په لـمونځ کښې د رب نه مناجات دے نو د دې د پاره ځان

سينګکارول، عطر لګول مستحب دي. (نیکی کی دعوت، ص 207) ❁ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هميشه ښه خوشبوئي استعمالوله او د دې به ئې نورو خلقو ته تلقين هم کولو. (سنتیں اور آداب ص 83) ❁ ناخوښه بوئي يعنې بد بوئي به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناخوښه ګڼلو. (سنتیں اور آداب ص83) ❁ نارينؤ له په خپلو جامو باندې داسې خوشبوئي استعمالول پکار ده د کومې چې خوشبوئي خوره شي او رنګ او داغونه وغيره ئې نه ښکاري. (سنتیں اور آداب ص85) ❁ د زنانؤ د پاره د خوشبوئي لګولو منع په هغه حالت کښې ده چې کله هغه خوشبوئي پردو نارينؤ ته رسي، که چرې هغه په کور کښې عطر لګوي د کومې خوشبوئي چې خاوند يا اولاد، مور پلار ته رسي نو هيڅ باک نشته. (سنتیں اور آداب ص85) ❁ اسلامی خويندو له داسې خوشبوئي نه دي لګول پکار د کومې خوشبوئي چې پردو نارينوو ته اورسي. (سنتیں اور آداب ص86) ❁ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زنانه چې کله خوشبوئي اولګوي او د يو مجلس په خوا تيريږي نو هغه داسې او داسې ده يعنې زانيه [بد کاره] ده. (ترمذی، 4/361، حدیث: 2795) ❁ د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به "مشک" د سر مبارک په مقدسو ويښتو مبارکو او په ږيره مبارکه لګول. (سنتیں اور آداب ص 83) ❁ د ائير فريشنر د استعمالولو نه ډډه پکار ده. (سنتیں اور آداب ص84)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

دراتلونکي هفتي رساله





فيضانِ مدينه، محلّه سوداکران، زره سبزي منڊهي کراچئ

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com